شریعت
ورځپاڼه
د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان
د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ۳۹۱ ګڼه / سه شنبه ۱۶ شعبان‌المعظم ۱٤٤٥ هـ.ق / ۰۸ حوت ۱٤۰۲ هـ.ش/ ۲۷ فبروری ۲۰۲٤ میلادي

# جوزجان کې پر یوه قاتل د قصاص الهي حکم پلی شو

د افغانستان اسلامي امارت سترې محکمې پــه جوزجان ولایت کې پر یوه قاتل د قصاص الهي حکم د تطبیق کېدو خبر ورکړی دی.سترې محکمې د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي چې پرون یې د جوزجان په مرکز شبرغان ښــار کې په نظر محمد نومي کس چې د أمان الله زوی دی او د فاریــاب د بلچــراغ ولســوالۍ د کولیــان کلي اصلي اوســېدونکي وو، د قصاص الهي حکم تطبیق کــړی دی.په خبرپاڼه کې زیاته شــوې، چــې نوموړي د ۱٤٤۳ هـق کال د ٦ مې میاشــت په ۱۲ مــه نېټه د خال محمد په نوم یو کس چې د عبدالعلي زوی دی او د فاریاب د بلچراغ ولســوالۍ د کولیان کلي اصلي اوسېدونکي وو په آله جارحه ســره وژلی و.د سترې محکمې له لوري په خپره شــوې خبرپاڼه کې همدارنګه ویل شوي، چې (یاده موضوع د اسلامي امارت د درې ګونو محاکمو له لوري په خورا دقیق او مکرر ډول وڅېړل شوه چې په پایله کې پــرې د قصاص حکم صادر او تائید شو وروسته دغه پرېکړه د اسلامي امارت د زعیم عالیقدر امیر المؤمنین شیخ الحدیث مولوي هبة الله اخندزاده حفظه الله حضور ته د تائید لپاره وړاندې کړل شوه، د عالیقدر امیر المؤمنین حفظه الله له لوري هم د دغه موضوع ۷مخ

معاون سیاسی ریاست الوزرا:

# علما و بزرگان قومی می‌تواند در راستای حل مشکلات مردم کمک کند



مولوی عبدالکبیر، معاون سیاســی ریاست الوزرا با شــماری از بزرگان قومی ځدران ولایت‌های شمال کشــور، در کابل دیدار کــرده اســت.ارگ در خبرنامه‌یی نوشــته اســت که در این دیدار ایــن بزرگان قومی با اشــاره به وضعیت اقتصادی و اجتماعی قوم ځدران در ولایت‌های شــمال کشور، گفــت کــه در جریــان اشــغال در اثــر تلاشــی‌های شــبانه و بمبــاران خانه‌های شــان، رنج‌های زیادی را متقبل شــدند و همه چیز را از دســت دادند.آنان افزودند که با آمدن امنیــت در منطقه، اکنون مردم می‌توانند مشــکلات شــان را از نزدیک با ادارات محلی شریک سازند ص۷

مولوي عبدالسلام حنفي:

# اسلامي امارت د کاري فرصتونو د رامنځته کولو په هڅه کې



د ریاســت الوزرا اداري مرستیال مولــوي عبدالســلام حنفي پرون د هیــواد د بېلابېلــو ولایتونو له یو شــمېر کنو هیوادوالو سره په ارګ کــې وکتل.په دې کتنــه کې کنو د هیواد پر سرتاسري امنیت خوښي ښرګنده کــړه او دا یــې د هیواد د پرمختګ په پار مناســب فرصت وبالــه.د ریاســت الــوزرا اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي په دې کتنې د خوښــی ښرګندولو ترڅنــګ وویل، اســلامي امارت د مســوول حکومت پــه توګه، د سرتاســري امنیت د ټینګښــت، د ټولنیزې هوساینې ۷مخ

شیخ الحدیث شهاب الدین دلاور: **دستآورد های امارت اسلامی در رسانه ها باید انعکاس گسترده یابد**

شــیخ الحدیث شــهاب الدین دلاور، سرپرست وزارت معادن و پترولیــم با مولوی نعیم الحق حقانــی هراتی، رئیــس مرکز رســانه های حکومت ملاقات نموده، روی انعــکاس فعالیت ها و دســت آوردهــای امارت اســلامی مخصوصــاً وزارت معادن و پترولیم بحث و تبادل نظــر نمودند.دفتر مطبوعاتــی وزارت معادن و پترولیم بانشــر این خبر نگاشــته است: در این دیدار سرپرست وزارت معادن و پترولیــم ضمــن صحبت در مورد نقش و اهمیت مطبوعات و رســانه هــا گفــت: وزارت معــادن و پترولیم، پیشــرفت ها و دســت آوردهای عمده و مهــم را دارد و تاکیــد نمود که این فعالیت ها و دست آوردها باید انعــکاس داده شــود.در ایــن دیدار رئیس مرکز رســانه هــای حکومــت از فعالیت ها و دست ۷مخ

سرپرست وزارت صنعت و تجارت:

# فرصت های سرمایه‌گذاری در افغانستان از هرزمان دیگر بیشترشده است




سرپرســت وزارت صنعــت و تجــارت در دیــدار بــا رئیس شــرکت امی اغلو گروپ گفت جهت حل مشــکلات تخنیکی در بخش معادن مرمر همکاری خواهنــد کرد.دفتــر مطبوعاتی وزارت صنعت و تجارت با نشر این خبر گفته اســت که الحاج نورالدیــن عزیزی، سرپرســت وزارت صنعــت و تجــارت با رجــب مصطفی اغلــو رئیس شــرکت امی اغلوگروپ دیدار و ملاقات کــرد. در این دیدار، مصطفی اغلو از فراهم ســازی زمینه مناســب سرمایه‌گذاری از سوی امارت اسلامی افغانستان اظهــار قدردانی نمــوده، گفت: شرکت امی اغلو ص۷

# فراه کې له قومونو سره د همغږۍ غونډه جوړه شوه

د ســرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت په فــراه ولایت کې له قومونو سره د همغږۍ غونډه جوړه کړه.
په دې غونــډه کې قومي مشــرانو د خبرو پر مهال د اســلامي امارت په حاکمیت کې د هېواد په ټولو برخو کې امن یوه لویه لاسته راوړنه یاده کړه او له مسوولینو څخه د ښوونځیو، روغتونو، سړکونو او پلچکونو جوړولو په برخه کې د پاملرنې غوښتنه وکړه. ۷مخ

# جلسه کمیسیون کتاب برگزار شد



**شریعت:** جلســه هفتــه وار کمیســیون کتاب به ریاســت حیات الله مهاجر فراهی معین امور نشراتی وزارت اطلاعات وفرهنــگ با اشــتراک نماینده وزارت هــای معارف، ارشــاد حج و اوقاف، اتحادیه ناشران، اکادمی علوم ریاســت عمومی اســتخبارات و شــماری از ریاست های وزارت اطلاعات و فرهنــگ برگــزار شــد. این کمیسیون بیش از چهل ص۷

ولې د خپل نظام ملاتړ نه کوو !؟ ۲مخ
د مورنۍ ژبې ارزښت ۳مخ
افغان اعلانات ۶مخ

سرمقاله

# منځنۍ اسیا-افغانستان یو مسیر او یو پل

تر فتحې وروســته اسلامي امارت له منځنۍ اسیا سره سیاسي او اقتصــادي اړیکــې تر هر مهال ښــې غوړولي. اســلامي امارت او د منځنۍ اســیا هیوادونو دا درک کړې چې د سیمې اقتصادي وده او ټیکاو له دغو دوو خطو پرته ناشونی کار دی. که د منځنۍ اســیا هیوادونه خپلو انرژیکي توکو ته په جنوبي اســیا کې بازار لټوي، له افغان خاورې پرتــه بله لار نه لري. دغه راز د جنوبي اســیا هیوادونه هــم د ترانزیتي توکو د لېږد په خاطر افغانســتان ته اړتیا لري. دمګرۍ د منځنۍ اســیا له ګنــو هیوادونو سره زموږ اړیکې خورا په ښــه دریځ کې دي. له اقتصادي راکړې ورکړې ورهاخــوا نږدې له ټولو هیوادونو سره ډیپلوماټیکــي اړیکې هم لرو. له شــک پرته چې له دغو هیوادونو سره د اړیکو په رغولو کې اســلامي امارت ډېر زیار کښــلی. نږدې وخت کــې د ټاپي پروژې پر پیــل بحث او د اســلامي امارت له خوا د ممکنه همــکارۍ ډاډ یو بل څېرکی دی چې ښایي د افغانســتان جیوپولوټیک اهمیت ورسره څو چند لوړ شي.ورمه ورځ د بهرنیو چارو ویاند مرستیال په خپل اېکس ولیکل چې د مولوي امیرخان متقي په مشرۍ یو پلاوی د ترکمنســتان په بلنه هغه هیواد ته روان شــو. ویل کیږي چې په دغه ســفر کې د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست، د ریل پټلۍ عمومي رئیس او د برېښنا شرکت عمومي ۷مخ

# سمنګانو کې ۲ پروژې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې

د ســمنګانو په ۳۰ بســتریز انتاني روغتون کې ۴۰۰ کیلو ولټ برېښنا او د څښاک اوبو د یوې شبکې چارې بشپړې او ګټې اخیســتنې ته سپارل شوې دي.د سمنګان د عامې روغتیا رییس ملا محب اللــه بهاري باختر آژانس تــه ویلي چې د روغتیا نړیوال ســازمان په مالي ملاتړ د یاد ولایت په ۳۰ بستریز روغتون کې ۴۰۰ کیلو ولټ برېښــنا او د څښاک اوبو د یوې شــبکې چــارې د ۵۶ زره امریکایي ډالــرو په لګښــت بشــپړې او ګټې اخیستنې ته سپارل شوې دي.په ورته وخت کې د ولایت مقام ۷مخ

# بهره برداری (۷۵۰) متر سرک کانکریتی در مربوطات ولایت پروان

کار ســاخت (۷۵۰) متر ســرک کانکریتــی درقریــه میرخان خیل ولسوالی ســیدخیل ولایت پروان بــه مصــرف (۴) میلیــون افغانی بــه کمک مالــی برنامــه حمایت اجتماعــی و معیشــتی از طریــق ریاست احیا و انکشاف دهات آن ولایــت تکمیل و به بهــره برداری سپرده شد.این سرک دارای (۱۹۵) متردیــوار محافظــوی و (۵) پایه پل میباشــد که در جریــان کار آن برای (۲۱۳) تن کارگــر زمینه کار فراهــم گردیده و با تکمیل شــدن آن مشکلات ترانســپورتی صدها خانواده قریه متذکره مرفوع گردیده است.

# تخار کې د روږدو درملنه وشوه

په تخار کې پولیســو ۶۸ روږدي کسان د درملنې په موخه د کندز د روږدو کسانو د درملنې ۵۰۰ بستریز روغتون ته لېږدولي دي.د تخــار د امنیــې قوماندانۍ ویاند عبدالمبین صافي باختر اطلاعاتي آژانس ته ویلي چې د یاد ولایت د امنیې قوماندانۍ د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې مدیریت د پولړ کډو عملیاتو په بهیر کې په نشه یي توکو ۶۸ روږدي کسان د تالقان ښار له مربوطاتو څخه راټول او د درملنې په موخه یې د کندز د روږدو کســانو د درملنې ۵۰۰ بستریز روغتون ته لېږدولي دي.

# په ډله ییزو ودونو کې د بېځایه لګښتونو مخنیوی



**شــریعت:** کابل کې د وصال کوثر کلتوري بنسټ له لوري د ۲۸ جوړو د ودونو مراســم ترسره شــول، په دغه مجلس کې له مختلفو ولایتونو څخه د واده کوونکو جوړو سربېره د یادو جوړو کورنۍ ۷مخ

# شاولي کوټ کې د دولتي ځمکو د غصب مخه ونیول شوه



د کندهــار دکرنــې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاســت وایي، چې ددې ولایت د ځمکې د غصب مخنیوي او د غصب شویو ځمکو ۷مخ

# جهادي خاطرې

## د بدمرغیو پیل!

**مولوي حیات الله مهاجر فراهي**

**۱۳۸۰/۶/۲۰هجری لمریز - ۲۰۰۱/۹/۱۱ میلادی کال**

دبلخ ولایت په دولت آباد ولسوالی کې و، مابښام ۷ بجې مې دامریکا ږغ راډیو پښتو برخه ونیوله چې دسرتکې یې دا وو... د نیویارک پرآسمان څکو ودانیو دالوتکو په مټ برید شوی خبریالانو شیبه په شیبه له سیمې مستقیم خبرونه خپرول، په ټوله امریکا کې خورا وحشت خپور و، درسته نړۍ حیرانه وه چې دامریکا په څېر په یوه پرمختللې ، مجهر اوله هرپلوه په ځان ډاډه او بسیا هېواد کې داسې حالتویني.

افغانانو هم داپېښه په یوه داسې بڼه څارله چې زرګونه مېله لیرې په یوه غربي هېواد کې رامنځته شوې او ګواکې زموږ سره هېڅ اړه نه لری، خو دا فرضیه ډېره ژر بدله شوه او پوه شوو چې ددې پېښې تاو به ددې کنډواله هېواد بې وزلو وګړو ته رسېږي.

په همدې سهار له دولت آباد نه وخوځېدو نیغ دتخار ولات ته ولاړوچېرې چې دشهید قاري فیض محمد فیاض په مشرۍ دجهادي مدرسې طالبان مېشت وو.

دپېښې سمدستې وروسته امریکایي چارواکو اسلامي امارت ته ګوتڅنډنه وکړه او د اسامه بن لادن د ورسپارلو خبره یې وکړه، اسلامي امارت ورته دخبرو له لارې دموضوع دغوڅولو وړاندیز وکړ خو داسې بریښېدله چې امریکایي لوري لا له وړاندې پرافغانستان دیرغل پرېکړه کړې وه.

اسلامي امارت ډېره هڅه وکړه چې امریکا له حملې نه په شا شي خو ونه شوه، وروستۍ هڅه یې دټول هېواد نه ددوه زرو علماوو راغونډول او دامریکا دیرغل په صورت کې فتوا غوښتل وو.

په کابل کې علماوو دځو ورځو وروسته داسې فیصله صادره کړه: داسلامي امارت مشرتابه دې داسامه بن لادن نه وغواړې چې په خپله خوښه کوم بل هېواد ته ولاړ شي. دامریکا نه یې وغوښتل چې پرافغانستان دې دیرغل اشتباه نه تکراروي که احیاناً داکارکېږي، نو پرټول ملت جهاد فرض عین کېږي، له بده مرغه امریکا په ډېر غرور کې وه، داسلامي امارت مسلسل وړاندیزونه یې چې دجګړې دمخنیوي لپاره کړې وه، رد کړل.

له بلې خوا داسلامي امارت تماسونه هم دنړۍ دهېوادونو سره ډېر محدود وه، یواځینې چینل پاکستان و، چې له لارې یې دامریکایي لوري سره اړیکه نیول کېدل چې بدبختانه دوی هم په دې منځ کې خپل منافقت کاوه اوپیغامونه یې په پوره توګه نه تبادله کول.

امریکا هم په نظامي اوهم ددیپلوماسۍ په ډګر کې سخته مصروفه وه، چې دحملې لپاره ځانته ملګري ولټوي، چې ټولې هڅې یې په خورا بریالیتوب او پرته له کوم خنډه پرمخ رواني وې، امریکا په خورا بېړه خپلې جنګې بېړۍ او جګړییز سامان آلات دسمندر له لارې سیمې ته راورسول ، دهېوادونو نه یې دهمکارۍ تضمین واخیست، دپاکستان ولسمشر جنرال مشرف دبوش په یوه تلیفوني تماس خپل دحکومت ټول لوری بدل کړ، امریکا ته یې خپله ځمکه اوفضا په چوپړ کې ورکړله.

داسلامي امارت ځواکونه هم دجګړې لپاره په نسبي تیاریو بوخت وه او دجګړې لپاره یې تابیا نیوله. په دې ورځوکې ترټولو زیات فعال د سیا ( سی،آی آې)شیطاني اداري ټیمونه وه چې د ډالرو ډک تور بکسونو سره دپنجشیر په دره کې دقوماندانانو سره په لیده کاته بوخت وه، همداشان دپاکستان په کوټه او پښتونخوا سیموکې دمجاهدینو د پخوانیو چارواکو سره په سلامشورو بوخت وو.

جګړې ته ټولې تیارۍ بشپړه شوې وې چې بالاخره دمیزان دمیاشتې پرپنځلسمه کال ۱۳۸۰ /لمریز داکتوبر پر ۷مه ۲۰۰۱ میلادي پرافغانستان دیرغل قومانده ورکړل شوه...

## ولې د خپل نظام ملاتړ نه کوو!؟

**سید یحی عمر**



کفار لګیا دي خپلو باطلو او غیر صحیح افعالو او اقوالو ته د صحت نوم ورکوي، ملاتړ یې کوي، په دې برخه کې هڅه او کوښښ کوي، ګڼ شمېر کسان یې د دې فعالیت لپاره ځانګړي کړي،خپل ځانونه نړۍ ته پرې ښه معرفي کوي، باطل استدال درسره وایي او د خپلو هغو کړنو چې له بشریت سره ۱۰۰ سلنه مخالفت لري خو بیا یې هم ننګه کوي.موږ الحمدلله ثم الحمدلله الله جل جلاله د اسلام پر ستر نعمت نازولي یوو ، له ټولو غوره امت یې ګرځولي یوو او د نبیانو د غوره نبي او رسول (صلی الله علیه وسلم) امت کې یې داخل کړي یوو، په دې سربېره په هغه هېواد کې یې استوګن ګرځولي یوو،چې اسلامي نظام پرې خپل سیوری غوړولی، د شریعت په تطبیق کې لومړی مقام لري، امن او امان یې صفت جوړ شوی، د پردیو له اشارو خلاص یوو، نو باید د خپل سپېڅلي نظام ننګه او ملاتړ وکړو غوره کړنې یې وستایوو، د کمي او نقصان په صورت کې په مناسبه طریقه د هغه د اصلاح هڅه وکړو، مشروع امر پر ځای او لبیک ورته ووایو.په ښکلي او له اسلامي نظام برخمن هېواد کې مو داسې کارونه او پروژې تر کار لاندې دي چې په تېر کې ساری نه لیدل کېږي هغه هم په خپله او مستقله بودیجه او پیسو ، کومه برخه کې چې زیاته اړتیا احساسېږي هغه ته د اړتیا د پوره والي پر بناء لومړیتوب ورکول کېږي، پیسې د جیب پر ځای د خپل ښه راتلونکي لپاره په مصرف لګېږي، د نمایشي کارونو پر ځای بنیادي کارونو ته ترجیح ورکول کېږي، چېرته مو چې د هېواد او هېوادوالو لپاره نفع زیاته رسېږي هلته مصرف کوو هسې نه لکه په تېر شل کلن اشغالي دور کې چې د نورو په پیسو به نمایشي او بې بنیاده کارونه د نورو پردیو په اشارو او ویلو تر سره کېدل .د بېلګې په توګه موشت نمونه خروار څو مثالونه د موجوده نظام غوره کارونو او پروژو درته وړاندې کوم:

- د قوشتیپې کانال چې نړیوال یې هک پک حیران کړي او ګوته په غاښ دي.
- د سالنګ تونل په داسې نړیوال معیار جوړول چې تر ډېره به د مثال په توګه پاتې وي.
- د کابل -کندهار لویې لارې جوړولو کار په غوره کیفیت سره چې ستره او مهمه پروژه بلل کېږي.
- د ښارونو د زرغونتیا لپاره هغسې هڅه کول کوم چې د ښاریانو لپاره د غوره ژوند کولو راز پکې نغښتی وي.

او داسې نور یې له یادولو یې زما ګوتې عاجزې دي ، ضرور ده تر څو قلم او خوله مو د شکر تر څنګ د نظام د ښه یادولو ، ملاتړ ، په ښه طریقه د اشتباهاتو او نقصانونو د اصلاح لپاره په کار واچوو کومه برخه کې چې په موږ باندې د نظام قوام ته ضرورت وي لاس په کار شو ، متې بډوهو او خپله انرژي په کار واچوو او هغه څه و نه سپموو،چې له موږ سره موجود دي .

## د بشري حقونو پر وړاندې د غربي نړۍ توپیري چلند!؟

**وحیدالله ـ هڅاند**



نن سبا په نړیوالو غونډو کې د افغانستان په تړاو ((بشرحقونه او ټولګډونه حکومت))ډېر مطرح کېږي او په دې وروستیو کې د همدغو دوو موضوعاتو په اړه د نړۍ ډېری هېوادونه پر له پسې غونډې جوړوي، په داسې حال کې،چې اوسمهال تر اسلامي چتر لاندې د ټولو افغانانو حقونه خوندي او سرپرست حکومت یې ټولشموله دی، معنی داچې په اوسني حاکم نظام کې په کور د ننه د ټولو افغانانو هغه حقوق،چې اسلامي شریعت اتباعو ته ورکړي تامین او حکومتي اداڼه یې له بېلابېلو قومونو (پښتون، تاجیک، هزاره، ترکمن، ازبیک، ایماق ) څخه جوړه او ټولو ته یو نظر کتل کېږي،خو دغه لیدلوری د حقوقو د پېژندنې توپیر کوي، له بده مرغه غربي نړۍ او هغه هېوادونو چې غیر اسلامي دي، په دې فکر کې دي،چې موږ باید بشري حقوق د هغوی له لیدلوري تعریف او وپېژنو. د نړیوالو اصولو له مخې د بشر حقونو اعلامیه په ۱۹۴۸ زیږدیز کال کې جوړه شوه، خو غربي نړۍ ډېری وخت د خپلو موخو د ترلاسه کولو لپاره بشري حقونه پلمه ګرځوي او د نړیوالو اصولو له مخې د بشرحقونو په اړه اعلامیې خپروي، په داسې حال کې نړۍ باید د هر هېواد کلتور، مذهب او نورو اړخونو ته په کتو بشري حقونو ته درناوی وکړي.

په دوهمه نړیواله جګړه کې د نژاد، دین، سیاست پر بنیاد له پنځوسو میلیونو زیات انسانان ووژل شول، په جاپان کې یوه امریکایي اټومي بم د اته سوه زرو انسانانو ژوند واخیست،دغو پېښو په کلکه انساني وجدان ته ټکان ورکړ او د بشري حقونو د ساتلو اندېښنه یې پیاوړې کړه. بشري حقونه د انسان پالنې د اندېښنې وده او پراختیا ده او نه باید په نژادي، مذهبي، جنسي او فرهنګي دلیلونو انسانان له حقونو محروم شي.

امریکا د خپلو ګټو د ترلاسه کولو لپاره د ترهګرۍ ضد مبارزې، قاچاق مخنیوي او نړیوال امنیت د خوندیتوب په پلمه پر افغانستان پوځي یرغل وکړ او په شل کلن اشغال کې یې میلیونونه افغان بې کوره کړل، زرګونه یې له فقر سره مخ کړل،سلګونه میندې بې اولاده او سلګونه مېرمنې بې خاونده شوې، ډېری افغانان یې خپلو کې په ډلو ووېشل او ډېرې ککړۍ یې تر خاورې لاندې کړې،چې د امریکا دا ظلمونه به د افغانستان او نړۍ په تاریخونو کې ثبت شي. په افغانستان کې د امریکا ظلمونه به تر ابده د افغانانو له ذهنونو حذف نه شي، ځکه د بشر دوستۍ په نامه یې ټول بشر درې ورې کړ، په جنازه، ودونو او په میلمستیاو یې بمبارونه کوچنې مثالونه دي.

امریکا او د ناټو ملګرو یې په افغانستان کې د بشردوستۍ او د افغانستان د رغونې په نوم داسې ظلمونه،وحشتونه او مرګونه کړي، چې هېڅ د ښېلو نه دي،د شمېرنو له مخې، په تېرو شلو کلونو کې د امریکا ډرون په بریدونو کې څه باندې یو لک افغانان شهیدان شوي، په افغانستان کې پر ملکي وګړو د امریکایي پوځ بې شمېره هوایي بریدونه، د برېټانیا ځانګړو هوایي ځواکونو د ملکي وګړو د وژلو سیالۍ، د استرالیا پوځ د بې ګناه ماشومانو او ښځو د وژلو پېښې تر سره کړې، خو له بده مرغه تر اوسه پورې هېڅ محکمه او قانوني میکانېزم نه دی جوړ شوی، چې پر دغو مجرمینو عدالت پلی کړي. همدا اوس موږ وینو چې د همدغې امریکا په غوښتنه د صهیونیستانو او حماس غورځنګ جهادي ډلې تر منځ روانه جګړه کې د فلسطینیانو د ټولې مرګ ژوبلې شمېر ۱۰۰ زره تنو ته رسېدلی، چې ۲۹ زره ۶۰۶ تنه په کې شهیدان او ۶۹ زره ۷۳۷ تنه په کې ټپیان شوي، چې د شهیدانو او ټپیانو ډېره برخه ښځې، ځوانې او ماشومان جوړوي، دغه راز د اسرائیلو د ظلمونو له امله ۱،۸ میلیونه فلسطینیان له خپلو مېنو بېځایه شوي، چې اوس مهال په سختو شرایطو کې ژوند کوي!

په هر حال د افغانستان په تړاو د امریکا او متحدانو اصلي خبره،چې ډېره مطرح کېږي،بشري حقونه او ټولګډونه حکومت جوړول دي، خو له غربي نړۍ څخه پوښتنه دا کېږي، چې دوی ولې خپله د بشري حقونو تامین ته ژمن نه دي او د انسانانو ژوند ورته هسې د توت پاڼې په شان ښکاري، که امریکا ته افغانستان کې بشري حقوق مهم وي، نو شل کاله وړاندې یې ولې ورته درناوی نه درلود، چې هره ورځ به یې سلګونو افغانانو په وژلو سیالۍ کولې؟ له همدې امله وایم چې د بشري حقونو په اړه امریکا توپیري چلند کوي، ځکه د نړۍ په سطحه یو بشر دی او هره یوه ټولنه ځانته حقوق لري، نو بیا ستونزه په څه کې ده، چې افغانستان کې د بشري حقونو غوښتنه کېږي او فلسطین په شان د نورو هېوادونو وګړي له بشر حقونو محروم وي؟!

اوس غزه کې څه روان دي؟ چېرته دی د بشري حقونو نړیوال سازمان، چې غزه کې د روانو وحشتونو او ظلمونو مخه ونیسي، ځکه امریکا په دغې جګړه کې د اسرائیلو اصلي ملاتړی دی او د دغې جګړې بوی په لبنان، سوریې، یمن او سرې بحیرې کې هم حس کېږي. لنډه داچې بشري حقونه د غرب مالکیت نه دی،د عدالت د تامین کولو په کارکې د بشریت تاریخ او په تېره بیا د وروستیو دریو پېړیو تجربې د دې حقیقت څرګندونه کوي،چې د بشري حقونو له مراعات او درناوی پرته د عدالت تامین کول ناممکین کار دی،که اوسنی نړۍ ته فکر وکړو، بشري حقونه د یونیورسل حقونو په توګه نه پېژني او بشري حقونو ته د نوي امپریالېزم او یا هم په دنیا کې د غرب د نفوذ د وسیلې په سترګه کتل کېږي، خپله غرب کې هم د ښي لاس افراطي او مذهبي کړنې بشري حقونو ته زیان رسولی ،له یوې خوا د بشري حقونو مخالفین استدلال کوي،چې دا د کولکتیف پر ځای د یوه ځانګړي وګړي حقونه دي چې کولکتیف کمزوری کوي او له بلې خوا دیکتاتوران، ایدیؤلوژیکي او مذهبي واکمنۍ هڅه کوي بشري حقونو ته نسبي بڼه ورکوي او هماغه کسان د خپلو دودونو تابع ګرځوي.

مهمه دا ده، چې موږ مسلمانان باید د خپل دین ارزښتونه وپېژنو او په اوسنۍ زمانه کې یې د نړۍ بشریت ته وړاندې کړو، ځکه د بشري حقوقو رعایت په اسلام کې عبادت دی او هغې ته نه پاملرنه او یا پرې تېری کول لویه ګناه ګڼل کېږي او هر انسان په فردي ډول او اسلامي ټولنه په ډله ییز ډول د دې ساتنې او ژغورنې مسئولیت لري.

# د مورنۍ ژبې ارزښت

**خالد افغان**

یومبتذل بحث چې زموږ په تحصیلي نصاب او حتی تر اکاډمیکو مرکزونو په همغه یونواخته بڼه راروان دی، هغه ژبه تر پوهاوي او راپوهاوي محدودول او ایسارول دي. د ژبې بحث خورا پراخ دی. حتی که مبالغه ونه شي، د ژبې په وسیله پوهاوی راپوهاوی د ژبې د تعریف او شناخت یوه وړه برخه ده او په کارنده چاپیریال کې یې یوه ټاکلې برخه اشغال کړې او بس. د نړۍ هېڅ پدیده له ژبې عاري نه ده. ډېر فیلسوفان په دې باور دي چې ځمکه د ژبو کره ده او که نه د خاورو تش بې مانا ډېری به پاتې و. د نړۍ ټولې پدیدې د ژبې په لوښي کې په خوځښت دي. که ژبه نه وای، انساني ژوند به بې مانا و او انسانانو به په پاشلې بڼه اوسېدل. ژبه د یوه قوم او ملت هویت، تاریخ، کلتور او په ټوله کې د یوه ولس د پېژندنې خورا بنسټیزه وسیله ده.

یونسکو د فبرورۍ ۲۱مه د ژبو د نړیوالې ورځې په نوم نوموله. دغه ورځ په ۱۹۹۹ زېږدیز کال د یونسکو په عمومي کنفرانس کې د ژبو او فرهنګونو د رنګارنګۍ په موخه ونومول شوه. ملګرو ملتونو هم د مورنیو ژبو خورا اهمیت ته په کتنې ۲۰۰۸ زېږدیز کال د نړۍ د ژبو کال اعلان کړ.

**د مورنۍ ژبې نړیواله ورځ څنګه رامنځته شوه؟**

د مورنیو ژبو د ورځې نومونه د بنګالیانو نوښت دی. په ۱۹۵۲ زېږدیز کال(هغه وخت چې بنګله دېش خپلواک هیواد نه و او د شرقي پاکستان په نوم یادېده.) کې یو شمېر بنګالیو زده کړیالانو سوله ییز لاریونونه وکړل او په پوهنتونونو کې یې د اردو سربېره د بنګالۍ ژبې ځایونه او رسمیت غوښت.

په همدغه کال بنګالي ځوانان له پولیسو سره لاس و ګرېوان شول او ګڼو پکې خپل ژوند هم وبایله.

خو د مورنۍ ژبې نومونه یوازې له دغه پړاو نه پیل او تمیرېږي. په ټوله کې د دغې ورځې رامنځته کېدنه له دریو پړاوونو څخه راتېرېږي. لومړی خو مو پورته د بنګالي ځوانان د سرښندنو په باب بحث راواخیست. دویم پړاو کې د ملګرو ملتونو د یونسکو سازمان پرېکړه وه چې د بنګالي مبارزینو هڅو او غوښتنو ته په پام او مورنیو ژبو ته په درنښت یوه واحده ورځ وټاکي. همغه وه چې په ۱۹۹۹زېږدیز کال یې د فبرورۍ ۲۱مه د مورنۍ ژبې د نړیوالې ورځې په توګه رامنځته او د ګڼو فرهنګیانو او عامه وګړو د هرکلي وړ وګرځېده.

دریم پړاو د ملګرو ملتونو په عمومي غونډه کې ددې ورځې منل او تاییدي وه. ملګرو ملتونو په ۲۰۰۸ زېږدیز کال کې د مورنیو ژبو خپلواک حیثیت ومانه او هغه نظامونه وغندل شول چې لرې کې او نور له خپلو مورنیو ژبو راګرځوي او خپلې ژبې پرې مني.

**د مورنۍ ژبې ارزښت په څه کې دی؟**

د ملګرو ملتونو شمېرې ښیي چې لا هم په نړۍ کې نږدې ۴۰ سلنه انسانان په خپلې مورنۍ ژبه زده کړو ته لاسرسی نه لري. هر انسان حق لري چې په خپله مورنۍ ژبه ورته د زده کړو زمینه چمتو شي. کوم ماشوم چې خپلې زده کړې په مورنۍ ژبه کړي وي، له هغو ډېر ځیرک او پوه وي چې په نورو ژبو یې ښوونځی لوستی وي. د سویلي افریقا پخوانی ولسمشر نېلسن منډېلا ډېر ښه وایي: ((که له یوه چا سره په داسې ژبه خبرې وشي چې نوموړی پرې پوه شي، نو دا خبره به د نوموړي مغزو ته کوزه شوې وي؛ خو که له نوموړي کس سره په خپله مورنۍ ژبه خبرې وشي، نو دا خبرې به د نوموړي زړه ته ښکته شي.))

یونسکو خو حتی هغه وګړي چې په خپلې مورنۍ ژبې خبرې نه شي کولی نالوستي بللي دي. هغوی چې ترې شعوري او لا هم لاسي مورنۍ ژبه اخیستل شوې او یا یې هم په لوی لاس خپله دا ارزښتمنه خزانه هېره کړې، د خپل فرهنګي شخصیت یوه لویه برخه یې بایللې ده.

یو فرانسوی لیکوال ډېر ښه ویلي: هر ملت چې خپله مورنۍ ژبه هېره کړي، د هغه زنداني وګړي په څېر دی چې د خپل زندان کیلي یې ورکه کړې وي. د اروپا یو بل داستان لیکونکی ورته نظر لري: کله چې نیواکګر غواړي، یو ملت غلام کړي، لومړی یې خپله ملي ژبه له ذهنه پاکوي، بله ژبه وربانده تپي او په نورو ژبو یې د تازه کتابونو لوستنې ته را بولي. د هند د نیمه لویې وچې د نه تاوتریخوالي مخکښ سیاستوال ګاندي ډېر ښه ویلي: (( چې خپله ملي ژبه اوادبیات نه وي لوستي، په حقیقت کې یې خپل تاریخ نه دی لوستی او څوک چې په خپل تاریخ ونه پوهېږي، نو راتلونکې نه لري.))

ژبه د یوه ولس د پېژندګلوۍ لومړنۍ او بنسټیزه نښه ده. اشغالګر او ښکېلاکګر چې ډېری وخت پر کوم هیواد یرغل کوي، نو له هر څه لومړی ترې مورنۍ ژبه اخلي. دوی پوهېږي چې د ژبې بدلون د یوه ولس د حافظې مېنځل او له خپلې ماضي سره یې پرېکون دی. یو کردی لیکوال لیکي: ((که چېرې زما مورنۍ ژبه ستا د دولت بنسټونه لړزوي، دا په دې مانا چې تا خپل دولت زما پر خاوره جوړ کړی دی.)) رسول حمزه توف په خپل کتاب (زما داغستان) کې لیکي چې په داغستان کې د مېندو تر ټولو بوږنوونکې ښېرا دا ده چې یو چا ته د مورنۍ ژبې د هېرېدنې او پرېښودنې په موخه کېږي.

**مورنۍ ژبې څه انګېزه راکوي؟**

د مورنیو ژبو نمانځنه او پاملرنه د همدغو ژبو ویونکو ته د خپلواک هویت او شناخته ورکونې روحیه ورکولی شي. څومره چې په مورنۍ ژبه خبرې کیږي، کار ورته کیږي، څېړنې، د عالي اثارو ژباړه او د اقتصاد برخه ګرځي؛ هومره هغه ژبې ارزښت لوړیږي. ژبه په فردي او ځاني هڅو هم د تمې وړ پرمختګ نه شي کولی. د وخت حاکم دولتونه باید دې برخې ته پوره پام راواړوي. په همدې ژبه زده کړې عامې شي، خلکو ته د لیک لوست چاره اسانه شي. بل بحث د کولو دی چې هغه ژبې ډېرې پاییږي او ښه وده کوي چې د دولت په چارچوب کې داخلې شي. هغه ژبې خورا ځواکمنې دي چې اقتصادي او سیاسي ملاتړ ورسره وي. دغه راز په ټکنالوژیکه برخه کې باید خپله ژبه هېره نه شي. څومره چې هڅه کیږي، هومره باید مورنۍ ژبه د ټکنالوژۍ له کاروان سره مله شي. ټکنالوژي او ساینس چا ته نه په تمه کیږي، خپله مخه وهي؛ خو که ملت ویښ وي، د خپلې ژبې ارزښت ورسره وي، نو له دغې سترې سیالۍ څخه نه په شا کیږي او ځان حتمي ددې سیالۍ جوګه کوي.

**افغان دولت دا ورځ په کومه کچه ونمانځله؟**

افغان دولت ورمه ورځ د فبروري ۲۱مه په پرتمینو غونډو نمانځلې ده. په پلازمېنې کابل کې یوې غونډې ته د اطلاعاتو او فرهنګ وزیر مولوي خیرالله خیرخواه ویلي: (( دلته پخوا د قومونو او ژبو په نوم له خلکو ناوړه ګټه اخیستل کېده او د یوې ژبې ویونکي به د بلې ژبې ویونکو په سیمه کې په خپله ژبه حتی ګړېدای نه شو.))

هغه په څرګندو ټکو وویل چې اوس هم د ژبې او قوم په نوم د افغانستان د خلکو تر منځ د اختلاف راپورته کولو هڅې کېږي. نوموړي ورانديې وویل: ((د خپلو شخصي موخو لپاره دې د افغانستان له خلکو د ژبې او قوم په نوم استفاده نه کېږي، د ژبو بېلوالی په دې مانا نه دی چې خلک یې هم سره بېل دي.))

د نوموړي په وینا، د تعصباتو په راپورته کولو کې یو لوری هم نه ګټیالی کېږي، بلکې د هر چا په زیان دی او په خبره یې یوازې یووالی دی چې د ټولو قومونو خیر په کې نغښتی دی.

مولوي خیرالله خیرخواه ډاډ ورکړ چې د افغانستان د ټولو قومونو او ژبو د ودې او راپورته کېدو لپاره کار کوي او نه پرېږدي، چې کومه ژبه یا قوم دې څنډې ته شي.

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د فرهنګ او هنر مرستیال عتیق الله عزیزي د غونډې ګډونوالو ته په ټینګار سره وویل چې د اسلامي امارت په راتګ سره په افغانستان کې د ټولو ژبو لپاره د بیان او لوست فرصت شته او کوښښ کېږي، چې هرې ژبې ته اغېزمن کار وشي.

ښاغلي عزیزي د دغې ورځې په تړاو ژمنه وکړه چې د هېواد ټولو فرهنګي ارزښتونو او ادبي اقدارو د پالنې او ساتنې لپاره به خپلې هڅې جاري ساتي. ښاغلي عزیزي له نړیوالو هم وغوښتل چې په دې برخه کې د افغان حکومت لاسنیوی وکړي.د فرهنګي چارو مرستیال ښاغلي عزیزي په پرېکنده ټکو وویل چې نړیوال دې فرهنګي ارزښتونه او مسایل د سیاست برخه نه ګرځوي. ښاغلي عزیزي وویل: (( دلته داسې بنسټونو او موسسې وې چې اسلامي امارت ته به یې سپارښتنه کوله چې فرهنګي مسایل دې له سیاست نه قرباني کوي. اوس موږ پر دوی غږ کوو چې په دې لار پل واخلي او فرهنګي ارزښتونه له سیاسته قرباني نه کړي.))

بل پلو، د ملي راډیو ټلویزیون رئیس یوسف احمدي د ټولو ژبو له ویونکو وغوښتل چې د خپلې ژبې د ودې او بډاینې لپاره له اړوندو بنسټونو سره لاس یو کړي. ښاغلي احمدي وویل، ژبه هغه وخت پرمختګ کوي چې د اورېدونکو او ویونکو تر څنګ کتاب، اخبار، جریده او لوستونکي ولري.

د نړۍ ټولې ژبې د درنښت وړ دي. له دیني لیدتوګې هم د انسانانو او ژبو رنګاکې د لا ښې پېژندګلوۍ په پار یاده شوې . بشري تاریخ دا هم په ډاګه کوي چې پیغمبران به قومونو ته د هغوی په ژبه د بلنې په موخه ورتلل.

د نړۍ ژبې د یوه چمن ګلان دي او د یوه په رژېدو نور هم کمرنګه کېدای شي. هېڅوک حق نه لري چې د بل قوم د ژبې سپکاوی وکړي، بلکې ژبې هم د خدای مخلوق دی او د خدای تعالی په خلقت کې شمېرل کیږي. بل پلو، هر ماشوم په خپلې مورنۍ ژبې د زده کړو حق لري او د ځمکې پر سر هېڅوک حق نه لري چې کوم څوک د خپلې مورنۍ څخه باندې له خبرو او زده کړو راوګرځوي او یا هم ترې په زور مورنۍ ژبه وتروړي.

# رژیم صهیونیستی به قوانین بین المللی و ارزشهای انسانی اهمیت نمی دهد

**احمد**

از۷ اکتوبرو آغاز جنگ وتجاوز رژیم اشغالگر اسرائیل به نوار غزه الی اکنون ،بیش از ۲۹ هزار فلسطینی شهید وبیش از ٦۹ هزار فلسطینی دیگر جراحت برداشته اند و یک اعشاریه هشت میلیون شهروند فلسطینی بی خانه گردید،همچنان میلیارد ها دالر زیان های مالی به مردم مظلوم غزه نیز واردشده است که نظربه تلفات این جنگ وآن هم درهمچو یک موقعیت محدود جغرافیایی ومقاومت جانانه فلسطینیان در مقابل مجهزترین ارتش جهان، خود عمق فاجعه را نشان میدهد وازاین وضعیت استنباط می گردد که این جنگ درذات خود نه تنها که بی مانند است، بل صفارایی وبی باکی کشورهای مستکبرغربی و ضعف وبی تفاوتی شماری ازکشورهای اسلامی رانیز به نمایش می گذارد ودرپهلوی آن ،چهره اصلی سازمان ملل متحد ونهاد های دروغین حقوق بشر، حقوق کودک و... راهم برملا ساخته است.به تازه گی سرمنشی عمومی سازمان ملل متحد درنشستی که پیرامون دوسالگی جنگ روسیه و اوکراین در این نهاد تدویر یافته بود، با بسیار الفاظ تحریک کننده وچهره حق به جانب ازکشورهای عضو این سازمان خواست که درراستای کمک رسانی به مردم اوکراین توجهی بیشتر کنند واین مقام ارشد سازمان ملل ،وضعیت دراوکراین راچنان با الفاظ متفاوت تمثیل وبازگو کرد که گویی مانند غزه روزانه دراوکراین بیش ازصد نفر کشته می شوند ، اما با تأسف که تهاجم غیرانسانی رژیم صهیونیستی ووحشی گری این نظام، علیه مردم مظلوم غزه که درتاریخ جهان بی نظیر است،هیچگاهی مانند قضیه اوکراین درسازمان ملل بازتاب نیافته درحالیکه تصاویر نشر شده کودکان گرسنه وپا برهنه ی فلسطین وفجایع سربازان اسرائیل دررسانه های اجتماعی ورسانه های دیداری،چنان دلخراش وآزار دهنده است که انسان های بادرک را مانند یخ به روی آفتاب، آب می کند ، ضمیر ووجدان آنان را چنان می آزارد که اصلاً به تصویر کشیدن آن برقلم بنده غیرممکن است .بنابرین خاموشی جهان ،تشدید جنگ غزه وهدف قراردادن افراد ملکی به ویژه زنان وکودکان توسط رژیم سفاک اسرائیل ،پرسشهای رادراذهان عمومی مطرح می سازد که چه بازی و معامله یی درجریان است وچرا سران کشورهای اسلامی صرف با محکوم کردن اکتفا می کنند،درحالیکه این کشورها از هرحیث قابلیت وارد کردن فشارهای مضاعف نظامی، اقتصادی ،دیپلوماتیک و... رابر رژیم صهیونیستی دارند، این مسأله اظهرمن الشمس است که این رژیم سفاک را امروز امریکا وشرکایش حمایت مالی ، لوژستیکی وسیاسی می کنند واین کشور ها اندکه دربرخی ازموارد ، برای مردم غزه نیز اشک تمساح می ریزند، اما هستند کشورهای غیر اسلامی که مانع تراشی و ویتوی امریکا درشورای امنیت سازمان ملل درباره صدورقطعنامه آتش بس درغزه رایک عمل غیرقابل قبول می دانند واین پرسش رامطرح می کنند که یک رای امریکا درشورای امنیت سازمان ملل چگونه مانع صدور قطعنامه آتش بس درغزه میشود، پرسشی که پاسخ آن واضح است واین کشور ها بودند که درسال ۲۰۰۱ میلادی با تهاجم نظامی امریکا به افغانستان، موافقت کردند وهیچ گونه موانع راایجاد نکردند ،هرچند تعدادی از اعضای شورای امنیت سازمان ملل درظاهر باهم درمخالفت اند،اما درباطن ودرمقابل کشورهای اسلامی به ویژه آن کشورهای که سرتسلیم به امریکا و هیچ کشور دیگری ، فرو نمی برند ، یک دست و یک صدا اند.این بی تفاوتی کشورهای قدرت مند جهان است که امروز نیروهای هوایی رژیم صهیونیستی مناطق مسکونی رامانند اهداف نظامی ، بی رحمانه هدف قرار میدهند وبه خواست مسلمانان جهان هم تمکین نمی کنند.

هفته گذشته جنگنده های بم افگن اسرائیل شهر ( دیرالبلح) درمرکز نوار غزه راهدف قراردادند که درنتیجه ٤۰ تن شهید وبیش از ۱۰۰ تن فلسطینی دیگر جراحت برداشتند که به تعقیب آنان جنبش حماس دربیانیه یی ضمن محکوم کردن جنایات وحشیانه رژیم صهیونیستی در دیر البلح مرکزنوارغزه اعلام کرد که رژیم صهیونیستی هیچ توجهی به قوانین بین المللی ندارد، این رژیم به بمباران منازل شهروندان درغزه ادامه می دهد.

همچنان حماس اعلام کرد که این اقدام به معنای تشدید جنگ،نسل کشی وپاکسازی نژادی درغزه و نشان دهند واکنش عملی رژیم اشغالگر به شکایت علیه خود درديوان بین المللی دادگستری است ، تا به جامعه بین المللی اعلام کند که این رژیم یک رژیم سرکش است که به قوانین بین المللی وارزش های انسانی اهمیتی نمی دهد.

دفتراطلاع رسانی دولتی درغزه با تائید شهادت و زخمی شدن این افراد، نوشته که ما علاوه بر اسرائیل دولت امریکا وجامعه بین المللی رانیزمسئول تداوم این جنایات می دانیم وازجهان آزاد می خواهیم سریعاً به این جنگی که اسرائیل علیه غیرنظامیان به راه انداختهُ پایان دهند. درآغاز هفته شبکه فلسطینی الیوم ،گزارشی رانشر کرد که درآن آمده: ارتش اسرائیل عملیات نظامی راعلیه فلسطینیان درنوارغزه انجام داده که براثر آن ۹۲ فلسطینی که شامل زنان، کودکان وغیرنظامیان اند،شهید و ۱۲٤ فلسطینی دیگر زخمی شده اند. همچنان دراین گزارش آمده که برخی از شهدا و زخمیان ،زیر آوار درخیابان ها قراردارند ورژیم صهیونیست از رسیدگی وامداد رسانی به آنان ،ممانعت می کند که این گزارش ها خودحکایت ازتشدید جنگ ونسل کشی درغزه ولجام گسیختگی نتانیاهو وکابینه اش دارد. امریکا کشوری که داد ازتأمین حقوق بشر می زند، سعی دارد این جنگ را تازمان انتخابات ریاست جمهوریش شعله ور نگهدارد تا ازآب گل آلود ماهی مراد صید کند.

بناً پیام مردم افغانستان به آن عده کشورهای اسلامی ومسلمانانی که دنباله رو امریکا و سیاست های این کشور اند ، اینست که باید درک کنندکه امریکا مدافع حقوق بشرنه ، بل ناقض اصلی حقوق بشر درجهان است واین سومین باراست که صدورقطعنامه آتش بس درنوارغزه را ویتو می کند و این کشور صرف درپی تطبیق اهداف استراتیژیک خود درقبال کشورهای جهان است وبس.

# تاریخ وایي او لیکي

**سمسور**

حضرت ابو عبیده عامر د عبدالله زوی او د جراح رض لمسی د قریشو د بني فهر له کورنۍ څخه و، له هجرته ۴۰ کاله وړاندې زېږېدلی هغه له لومړنیو مسلمانانو څخه و. د مکې مشرکانو چې الهي پیغام واورېد ځینو یې ایمان راوړ او ځینو یې د خپلو خپلوانو په ازارولو پیل وکړ، بناءً ابو عبیده رض هم وځورول شو، چې له امله یې لومړی حبشې ته هجرت وکړ او بیا مدینې منورې ته مهاجر شو. د ابو عبیده بن جراح رض په اړه رسول الله ص ویلي: ژباړه: «بېشکه د هر امت لپاره امین وي، زما د امت امین ابو عبیده بن جراح دی» .(بخاري۴۳۸۳) او (مسلم۲۴۱۹)یادونه: ټول صحابه رض امینان وو داسې نه چې یوازې نومړی امین و.

ابو عبیده رض په ټولو غزاګانو کې شریک و او د یوې ۴۰ کسیزې سرېې خو لا امیر ټاکل شوی و، چې له ډېرو ولجو سره ترې راستون شو، د رسول الله ص له رحلت وروسته د بنو ساعده په چوتره باندې د خلیفه ټاکلو لپاره هم موجود و او له راشدو خلیفه ګانو سره یې پوره مرسته وکړه. کله چې عمر رض خلیفه شو خالد رض یې له قومندانۍ او امارته لرې کړ او پرځای یې ابو عبیده بن جراح رض قومندان وټاکه او لیک یې ورواستاوه، د هغه د رسېدو پر مهال له رومیانو سره ښه خرپنده غزا روانه وه چې د مسلمانانو په بریا پای ته ورسېده نو بیا یې هغه لیک خالد رض ته وښود.

ابو عبیده بن جراح رض له نورو قومندانانو سره ډېر فتوحات وکړل، د شام ټول ښارونه یې ونیول او د اسلام دین یې په کې خپور کړ، تر دې چې وړوکې آسیا ته یې پوځونه وخوځول، وروسته د عمواس مشهوره وبا ګډه شوه، ډېر صحابه کرام او مسلمانان یې شهیدان کړل، چې ابو عبیده رض هم په کې شهید شو.

ټولو صحابه وو د رسول الله ص او د خپلو امیرانو اطاعت کاوه، مخالفت او سر غړونه یې نه کوله، ځکه د اطاعت په اړه ډېر آیتونه او حدیثونه راغلي او له ټولو خلکو زیات دوی پرې پوهېدل، نو له همدې امله یې د اطاعت کچه او د امانت سطح لوړه وه؛ که چېرې به انتقاد او نیوکه کول و هغه به هم په ډېر ادب سره د اصلاح او سمون لپاره و د کوم شخصي غرض لپاره به نه و.

ابو عبیده رض د یو شمېر مجاهدینو مشر او امیر ټاکل کېږي، خو کبر او لویي نه کوي، بلکې د مصلحت لپاره آن هغه لیک هم مخکیني قومندان ته نه ښکاره کوي د غزا له ختمېدو وروسته ورته وایي. خالد بن ولید رض له دندې لرې کړل شو هېڅ احتجاج یې ونه کړ بده یې و نه ګڼله او په ډېره ستره حوصله یې هغه و منله، د یو عسکر په څېر یې له نورو صحابه کرامو سره یو ځای غزا کوله چې اخر هم له جهاده پرته وفات شو. د چارواکو بدلون(ادلون بدلون) غوره کار دی، چې د خپل مشر له اطاعت او امر منلو څخه خبر شي او د اطاعت او امر منلو ماده په کې پیدا شي. د جمهوریت پر مهال د بلخ والي له خپلې څوکۍ او مقام څخه نه لرې کېده، په څه مشکل له ډېرو شرطونو لګولو سره یې ایله خپله څوکۍ او مقام پرېښود، ولې یې څوکۍ او منصب نه پرېښود؟ ځکه ورپورې نښتی و بل چا تر دې ځایه را رسولی او کېنولی و، خپل شوروي ضد جهاد یې له ډېرې سره یو ځای په لوېدیځوالو خرڅ کړي وو، اوس هم کله کله له بهرنیو رسنیزو لوډ سپیکرونو راغږېږي او د واک د بیا نیولو خوبونه خلکو ته وایي!!(این راه که تو میروی به ترکستان است).

د اسلام مبارک دین د یوې دندې اشغالول او د هغې سر ته رسول په اهلیت پورې تړلي، په اشخاصو پورې یې نه دي خاص کړي، چې پلاني سرښندنه کړې او باید په لوړه څوکۍ کېنول شي. خالد بن ولید رض، عمرو بن عاص رض او عثمان بن طلحه رض د حدیبیې له سولې وروسته ایمان راوړ، چې له هغه وړاندې د اسلام په دښمنۍ کې له ټولو مخکې ول خو رسول الله ص په خپل ژوندانه کې عمرو بن عاص رض د یوې سرېې مشر وټاکه، ځکه په هغه کې یې اهلیت لیده چې مشرتوب کولی شي. همدا شان د ابوبکر صدیق رض له لوري خالد رض د مسیلمه الکذاب مقابلې ته د مشر په توګه وټاکل شو، چې هغه فتنه یې پای ته ورسوله، بیا یې د عراق جبهې ته د مشر په توګه واستاوه په داسې حال کې چې د اسلام راوړلو یې ډېر وخت نه و تېر شوی، خو د امارت او اهلیت وړتیا په کې وه، نو راشدو خلیفه ګانو د اهلیت په اساس مسؤلیت ور وسپاره، اما امتیاز په دې و چې اسلام یې پخوا راوړی و.

عبدالله بن عمر رض پلار ته په ډېر ادب وویل: اسامه بن زید رض له ما د غزاګانو په میدانونو کې نه دی مخکې شوی، خو تاسو هغه ته لوی سهم ورکړی، امیر المؤمنین ورته وویل: مګر هغه او پلار یې په رسول الله ص ډېر ګران وو، چې ته او ستا پلار هومره نه و پرې ګران. دا و د عمر فاروق رض معیار چې له خپل ځان او زوی څخه یې زید بن حارثه او د هغه زوی اسامه غوره وبلل! نو امتیاز د دین د خدمت پر بنسټ او کار او وظیفه د اهلیت پر بنسټ.

د ابو عبیده بن جراح رض لقب أمین الأمة و، امانت عامه کلمه ده، چې د ژوند ټولو ابعادو ته شاملېږي، ولې زموږ په عام ژوند کې خو دې ته وایي چې چا امانت درسره کېښود هغه باید په امانتدارۍ سره وساتې او د غوښتلو پر مهال یې بېرته ور وسپارې، خو په دې امانت کې ټول ژوند راځي.

الله ج ژوند رابښلی دا یو امانت دی، په کار ده چې په عبادت کې یې تېر کړو، د آخرت او د دنیا ګټه ترې واخلو او په ژوند کې چې کومه دنده راسپارل کېږي هغه په ښه ډول سره ادا کړو.

له شل کاله جهاد وروسته د الله ج لورینه وه، اسلامي امارت بیا واک او ځواک تر لاسه کړ دا یو امانت دی دا امانت باید وساتو او دفاع ترې وکړو دا د ټولو چارواکو دنده ده، چې په اخلاص سره یې وساتي ځکه له هر څه سره اخلاص لازم دی هر کار کوونکی د معاش په بدل کې کار کوي، په کار ده چې خپله دنده په ښه ډول سر ته ورسوي او ټګي برګي په کې ونه کړي.

اسلامي امارت ته دا امانت ورسپارل شوی چې د ټولو هېوادوالو لپاره کارونه چمتو شي، چې لوستي وي هغو ته دفتري کارونه د اهلیت او لیاقت مطابق ورکړل شي، د معاشونو ډېر لوی توپیر ختم شي، چې په دې ډول سره به د فساد او رشوت مخنیوی وشي، د کار کوونکو سوچ او فکر به نورمال وي په ښه ډول به خپل کارونه پر مخ وړي.

د ښوونکو او معلمانو امانت خورا درونډ دی هغوی د نن زده کوونکي روزي چې د سبا معماران دي، ولې د دوی معاشونه ډېر لږ وي، ځینو ته لویې، لویې کورنۍ ور ترغاړې وي ذهن یې ګډ وډ وي او خپل ور سپارل شوی امانت په ښه ډول نه شي تر سره کولی.

# نه؛ زه نېشنلیست نه یم!

**مغفـــور شهیدزی**

څو ورځې وړاندې مې شریعت ورځپاڼه کې د هېواد د وتلي نامتو لیکوال او مبارز محترم دادمحمد ناوک په زړه پورې، تفصیلي او باکیفیته لیکنه د (پښتوشعر اوقومي هویت) ترعنوان لاندې ولیده، ډېر ورباندې خوشحاله شوم او دا احساس یې راته پیداکړ چې باید همیشه له خپلو اسلافو دفاع وکړو، د خدمتونو یې ستاینه وکړو اوپه تاریخي شکل یې د کتاب په صفحو کې ثبت کړو. همداراز باید خپلې ژبې او ادب ته په پوره پیمانه کار وکړو او د ترویج او پراختیا لپاره یې هلې ځلې وکړو، یوه اقتصادي او نړیواله ژبه یې وګرځو، معاندېنو ته یې مثبت ځوابونه ووایو او خپل هرڅه په مستند ډول واضح او ټولنې ته وړاندې کړو! داچې په هغې لیکنه کې د اباسین یوسفزي څه بې ځایه او خودرایه تاویلات د هېواد د شاعرانو او نیکانو د اقوالو شوي وو، چې له جملې یې د امیر کروړ پښتون شاعر شعرونه په قوم پرستي نومول، هم یادولای شو. په یو ناسم محمل یې حمل کړي وو، د ناوک صاحب ځوابونه ورته بلکل کافي بولم!

خو دومره به وکړم چې زه خپله په ټولنه کې د یو شاعر عالم په حیث کار کوم او هوبهو مې په دغه موضوع(کومه چې د اباسین د رد نقطه ګرځېدلې) شعر لیکلی؛ نو زه به د خپل شعر سپیناوی هم په خپله وکړم ترڅو دا ځای ورک شي چې شاید دا فلانکي چې د چا د خبرې روغ محمل بیان کړی، دا به ده له ځانه کړی وي او قائل به ورباندې راضي نه وي!

شعر اوږد دی دوه بیته یې داسې دي
ساتو دې چې ژوندي یو تر هغې سپېڅلې خاورې
په تامو کړې خدای ته دې سجدې سپېڅلې خاورې
مغفور چې افغانی دی بس همدغه ویاړ یې بس دی
همېش درباندې لیکي ترانې سپېڅلې خاورې

دلته ماهغه څه ویلي چې د وطن پرستۍ ښکاره دلیل دی؛ خو که لږ فکر وشي چې موږ د وطن پرستۍ ترکومه حده کړې په اسلام مو اولویت ورکړی که مو د اسلام تر چتر لاندې پاللې؟ جوته به شي چې اعتراضات او سوالونه بې ځایه دي!

ځکه زموږ د وطن جوړېدل او پالل خو د اسلام پر ضد یو ه یقیني قضیه وه؛ خو موږ بیا هلته وطن هم پرې اېښی قوم مو هم پرې اېښی او د اسلام په مقدساتو او بادولو ته یې موږ بې ساري قرباني ورکړې!

بله داچې موږ باید مطالعه وکړو معلومات ځانته حاصل کړو چې نیشنلېزم یا قوم پرستي په اسلام کې تر کومه حده روا اوبیا ناروا ده؟!

د دې خبرې د وضاحت لپاره باید ووایم چې قوم پرستي په اسلام کې په مطلق ډول ناروا نه ده بلل شوې! بلکې هغه وخت د ناروا حدودو ته ګډېږي چې په قوم پرستۍ وطن پرستۍ کې د حق او باطل موازنه ختمه شي که خپل قوم او هېوادوال په کومه ولاړ، ته د هغه ملاتړ او همکاري کوې! لکه ناوک صاحب چې یوه عربي مقوله لیکلې: انصراخاک ظالمًا او مظلومًا. دا هغه وخت ناروا ده چې په خپل حال یې پرېږدې؛ اما که یې تاویل وکړې لکه ناوک صاحب چې یې تاویل کړی بیا ناروانه بلل کېږي.

بل مثال د ناروا نیشنلېزم لکه ایت شریف کې چې راغلي ژباړه: اوکله چې دوی ته وویل شي تابعداري وکړئ د هغه چې الله تعالی نازل کړي دي! دوی وایي نه! بلکې موږ تابعداري کوو د هغه په کوم چې مو خپل پلرونه پیداکړي ، ایاکه څه هم هغه په هېڅ نه پوهېدل اونه یې هدایت پیداکړی [سورة البقره۱۷۰]دلته الله ﷻ د هغه چا د خبرې رد وکړ او خبریې د پیغورپه شکل ورته وکړه چې څنګه د یوکار پالنه پرته له کوم شرعي دلیله وشي؟ هو! زموږ اسلافو چې کومه پالنه کړې هغو د یو اسلامي مکلفیت پر اساس کړې؛ نه د خپل نفس په تقاضا هغه دلیل دغه ایات دی (وانذر عشیرتک الاقربین)که لږ پسې لوړ شو او فکر مو زور کړو دابه راته څرګنده شي چې قوم پرستي یا وطن پرستي نه یوازې داچې روا، بلکې په شرعي چوکاټ کې د ثواب سبب ګرځي! که موږ حدیثو ته وګورو څومره ډېر ثوابونه چې د مرابط(چې د وطن په سرحد کې شپې تېروي د وطن د حفاظت په خاطر) شته بل چاته به په ډېرو تکلیفو او عباداتو هم والله اعلم چې پیداشي کنه؟

دا خبر هوبهو د قوم پرستۍ او وطن پرستۍ دلیل بلل کېږي!

خوشرط دادی چې د وطن یا قوم پالل به د اسلام په خاطر وي؛ نه په نفسي خواهشاتو چې بیا یې پالل ظلم ته ورسېږي.

# روشنفکره ګوډاګیان

**منیر فاروقي**

په یاد به مو وي، چې د تېرې فاسدې ادارې روشنفکره ګوډاګیانو به ویل: ملا ته یې په سیاست څه؟

همدغو ناولو او کمپ مېشتو به په خپلو ناولو خولو همدغه خبره زمزمه کوله، چې د ملا په سیاست، اقتصاد، امنیت او د هېواد په رغونه سر نه خلاصېږي. ملا د خپل هېواد سرحدات نشي ساتلی. ملا نړیوالې اړیکې نه شي نیولی/ساتلی او همدارنګه هغو اشخاصو، چې خپل دین، مذهب او کلتور یې د یو څو ډالرو په بدل کې په غربیانو خرڅ کړی و؛ د تمسخر په ډول به یې ویل، چې ملا دې خلکو ته غسلونه ورښیي او مړي دې لمبوي، د ملا له سیاست سره څه!

خو همدغه کمپ مېشتي وطن فروشان، له خپل دین او تاریخ څخه ناخبره، په دې نه و خبر، چې (العلماءُ ورثة النبیاء) عالماء د انبیاوو وارثان دي. لکه څرنګه چې انبیاوو خپلو امتونو ته د نجات او کامیابۍ لار ښودله، همدارنګه عالمان به هم خلکو ته د نظام چلولو لارې چارې ښایي. دغه په نوم روشنفکران ګمان کوي، چې کوم کس پتلون په ځان، نېکټایي په غاړه او ګېره خریلې وي او هو به هو یې ځان د کفارو په شکل جوړ کړی وي؛ نو دوی به د نړۍ ساتونکي او چلوونکي وي، خو دغه د پیغمبر په سنتو مزین اشخاص به دا کار نه شي کولی (کَلّا و حَاشه) نه هېڅ کله نه.

اې د کفر ګوډاګیو روشنفکرانو! تاسو ته د ژوند کولو اصول چا دروښودل؟ همدا تاسو چې نن یې خپله مور او خور بولئ، چا دروپېژندل؟ د مړي خښول او په هغې د جنازې لمونځ ادا کول چا دروښودل؟ تاسو چې تر پرونه (مادر وطن) نارې وهلې؛ په کوم اساس مو وهلې؟ همدا تاسو رزیلانو، چې د مجاهدینو په خلاف جنګ روا بللو، د جمهوریت او وطن څخه دفاع کې مو خپل مرګ په حقه بللو، دغه د روا او ناروا نظریه مو له چا زده کړې وه؟ د روسانو او انګرېزانو په خلاف مو، چې پلرونه او نیکونه جنګېدل؛ د جهاد فتوا یې له چا اخیستې وه؟ او همدارنګه تاسو، چې په خپل ناموس او حیا د غیرت خبرې کوئ، چا درښودلې؟ تاسو چې اوس ملایانو ته د ساینس او ټکنالوژۍ خبرې کوئ؛ د نن څخه څوارلس سوه کاله وړاندې، د بشریت ستر لارښود او رهنما محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم، بیان کړي او تاسو پرې اوس خبر شوي یاست.

د ملا زور، سیاست، امنیت ساتل، نړیوالې اړیکې جوړول او د سرحداتو ساتل خو به مو اوس لیدلي وي، چې څنګه څوک سرحدات ساتي. څنګه څوک نړیوالې اړیکې جوړوي او څنګه څوک امنیت راولي. تا او ستا بادارانو خو په ټانګونو، طیارو او رنګارنګ اسلحو، ظلمونو او زندانونو امنیت ټینګ نه کړ؛ خو همدې ملا چې تاسو ورته په تمسخر ویل،(د ملا یې له سیاست سره څه) څه ونکړل. لږ نور هم منتظره شئ او د ملا کمال وګورئ، چې نور څه کوي. په اخره کې لنډغرو او روشنفکره ګوډاګیو ته دوه بیته ډالۍ کوم.

سر زورې نه یم، په سرزورو شریعت منمه
د جمهوریت په لنډغرو، امارت منمه
++++
تښتي به له ماتې ککرۍ سره
مه ازمایه زور دې له پګړۍ سره

## شعر او ادب

### غزل

**شرافت ویاړ**

کابل جان د واورې سپین څادر اغوستی!
نن یې بیا څومره حسین څادر اغوستی!

له پامیره تر واخانه زېري وشول!
هغوی هم دا مرمرین څادر اغوستی!

خرې غېږې به یې وسپړي گلونه!
جگو جگو غرو واورین څادر اغوستی!

غوړېدلې یې څېرې دي د بزگرو!
نن یې گونځو تندو ورین څادر اغوستی!

د یو چا ورباندې یخ باد پیرزو نه دی!
خو ویاړ واوره کې وربښمین څادر اغوستی!

## جالبه خاطره

**ذاکر جلالي**

د ترکمنستان د خارجه وزیر خاطره: نن په عشق آباد کې د افغانستان او ترکمنستان د خارجه وزیرانو په مشرۍ د ټاپي، تاپ، رېل پټلۍ او دوه اړخیز تجارت او ترانزیت کې د اسانتیاوو په اړه تفصیلي کاري مجلس و. افغانستان چې لسیزې یې نوم له یرغلونو، ناامنۍ او بې‌ثباتۍ سره تړلی و، چې دغسې د پرمختگ او ابادۍ بحثونه گورم لکه د تاریخ مسیر چې بدل وي... لکه د دې ملت د لسیزو قربانیو رنگ راوړی وي. نورې خبرې پر خپل ځای، د ترکمنستان خارجه وزیر چې له ۲۰۰۱ راهیسې د دې هېواد خارجه وزیر دی، امارت یې باوري شریک باله او جالبه خاطره یې وویله. ویل یې، ۲۰۰۱ کې چې امریکا پر افغانستان بمباري شروع کړې وې، حالات ډېر کړکېچن و خو زموږ کونسلگرۍ په مزارشریف ښار کې لا فعاله وه. کله چې د بمبارد په مقابل کې ستاسې ځواکونو ته مقاومت ناشونی شو او نور له مزار ښار څخه طالبان شاتگ ته مجبوره شول، ستاسې مسؤلینو زموږ کونسلگرۍ ته خلته کې د برېښنا د بیل پیسې راوړې او غوښتنه یې وکړه چې دا مو بیل دی موږ ځو چې تاسي زموږ پر خلکو برېښنا قطع نه کړئ. سبا ته امارت له مزار شریف څخه شاتگ وکړ! رشید مُرَدوف ویل، زموږ اړیکو کې رښتینولۍ موږ ته دا باور راکړی چې موږ او تاسې پرمخ تللی شو.

دا د افغانستان رښتینې او مسؤولانه اُستازولي ده!

## افلاطون

دموکراسی حکومت مردم نادان است ،
که در ان مردم فاقد عدالت، اعتدال
و دارای هوی و هوس ، گرد آمده
و صاحب رای و نظر میشوند ،
وقتی شما مریض میشوید ،
نمی گویید که اکثریت مردم جمع شوند
و ببینند و نظر بدهند
که من چه مریضی دارم ،
بلکه میروید نزد طبیب
و یا کسیکه در قسمت مرض شناسی تخصص دارد
، پس چرا باید موقع ساخت و ساز حکومت ،
نزد اکثریت عوام و غیر مسلکی
و حتی ناخوان و نادان در امور حکومت داری ،
که رای یک دانشمند با رای یک انسان مجرم
و دزد و قاچاقبرو ناخوان
یک برابر حساب شود ، برویم ؟؟؟

# د چاپې د یو بل خونړي سهار داستان!

**داد محمد ناوک/ طارق بدر**

د چاپو، بمبار، کمینونو او د خونړیو مازدیگریو له تېرېدو وروسته د سکون او ارامۍ دا دې نرېدې درېیم کال پوره کېږي، خو په دولتي کچه لا هم موږ داسې څه نه وینو، چې د دې وېرجن انقلاب هره شېبه ثبت او تر راتلونکو نسلونو ورسوي، چې ور وښيي پلرونو یې څنگه د نړۍ د خدایي دعوه دار تر ستوني ونیو، څنگه یې د ارزښتونو لپاره ټولې کورنۍ لولپه شوې او څنگه ځوانانو تر سینو باروت تاو او نېغ د فرعون په مانیو ور ونوتل!

خو لله الحمد په فردي لحاظ هغو ملگرو چې د قلم خواږه، د لیکلو استعداد او د دې ویاړلې مبارزې د گډون ویاړ لري، قلم پورته کړی او هڅه یې روانه کړې چې هم تاریخ خوندي او هم راتلونکو نسلونو ته وښيي چې د ازادۍ نعمت، د کفر شړل او د مزدورانو سرکوزي یې په څومره قیمت لاسته راغلې ده.

